مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

رڼاګل اریوبزی ۲۰۲۳/۱۱/۱۲

# په اسلام کې د ښځو مقام ته

## د شیخانو پام راګرځول

دطالبي شیخانودلوړوزده کړووزیرښاغلي شیخ ندیم دخپل کارپه دوران کې ثابته کړه چې دی دښځو، پوهې اوعقل ضد « مقدس جهاد » کې یو وتلی پهلوان دی، په دې لارکې دخنډونواوکړنګونو پروا نه لري، هرډول زیارونه اوزحمتونه ګالي، په ځای نه دریږي اوپه شا تګ له سره نه پیژني، دعقل اوپوهې ډیوې وژني، دظلمت په لورروان دی او په دې ګڼه، اوږده اوتوره ږیره ددې چاروقهرمان دی .ندیم په دې جهاد کې ګوښی نه دي، دطالبانو په منځ کې ځواکمن انډیوالان هم لري چې نن سبا په افغانستان کې دپوهې اوښځینه جنس په برخلیک بې مسؤلیته لوبې کوي. په دې لیکنه کې ددې شیخان په نوروکړووړوغرض نه لرم، دجګړو شعارونه هم نه پورته کوم .دجګړوخوندونه او دجنګسالارانولوټمارې اووحشتونه مولیدلي دي، ډیره بده سوله هم تردیرې په اصطلاح ښې جګړې دولس په ګټه بولم .خودښځینه جنس اودهغودکاراوزده کړوپه وړاندې دشیخانوځرګندونواوعملي کړنوته لاس په زنه هم نه شم کیناستلی .داسیاست چې ملت دظلمت په لوربیایي، نه یوازې دملي ګټو ضد سیاست دي بلکې دعقل اوپوهې نه له سره بې برخې سیاست دی چې پکې دانساني اواسلامي ترحم نښې اونښانې نه لیدل کیږي .ددې سیاست نه په دفاع کې د شیخ ندیم ویناګانې دسپکوسپورونه ډکې دي اوسپکې سپورې خوداسلام دین سره نه جوړیږي .دځینورسنیو په قول ده دخپلو تبلیغاتو په لړ کې بغلان ته دیوه سفر په وخت وویل چې »:خدای تعالی نارینه او ښځینه سره برابر نه دي پیدا کړي ......د دوی پیدایښت داسې شوی، چې نارینه به حاکم وي او ښځې به ورڅخه اطاعت کوي «.دشیخ صاحب په ویناد لوی پروردګارپه دربارکې نارینه له ازله تر ابده ترښځې لوړمقام لري، نارینه یې حاکم اوښځه یې محکومه پیدا کړې ده. حاکم به حکم کوي اومحکومه به یې بیله کوم قید اوشرطه مني. په دې صورت کې که نارینه ښځې ته حکم وکړي چې لمونځ اداکړه، نواداکوي به یې اوکه ورته ووایي چې مه یې اداکوه، نوبیا به یې نه اداکوي . په دې ځای کې زموږ شیخ صاحب دیوه نارینه په توګه په خپل حاکم مقام دومره مغروریږي چې دپاک خدای ( ج ) حکم یې هیریږي .اله تعلی خولمونځ، روژه، علم اوداسې نور په نراوښځې یوشان فرض کړي دي اود فرضودادا کولوله پاره ښځه دنارینه حکم اونارینه دښځې حکم ته هیڅ اړتیا نه لري، دواړه ( نارینه اوښځه ( یوشان یوازې اویوازې دپاک خدای دحکم تابع دي. په همدې ډول دواړه بیله کوم توپیره دخپلوعبادتونواوکړو وړودکیفیت اوکمیت پرتله مکافات یا مجازات تر لاسه کوي. په دې برخه کې په ښځه باندې دنارینه حاکمیت اولوړتیا ته له سره ځای نشته .دکائیناتوخالق په قرآن کریم کې فرمایې چې».إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَ الْمُسْلِماتِ وَ الْمُوءْمِنِينَ وَ الْمُوءْمِناتِ وَ الْقانِتِينَ وَ الْقانِتاتِ وَ الصّادِقِينَ وَ الصّادِقاتِ وَ الصّابِرِينَ وَ الصّابِراتِ وَ الْخاشِعِينَ وَ الْخاشِعاتِ وَ الْمُتَصَدِّقِينَ وَ الْمُتَصَدِّقاتِ وَ الصّائِمِينَ وَ الصّائِماتِ وَ الْحافِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَ الْحافِظاتِ وَ الذّاكِرِينَ اللهَ كَثِيراً وَ الذّاكِراتِ أَعَدَّ اللهُ لَهُمْ مَغْفِرَةً وَ أَجْراً عَظِيماً ) «په رښتیا چې لوی پروردګارمسلمان سړي اومسلماني ښځې، ایمان لرونکي سړي اوایمان لرونکې ښځې، دخدای فرمان منونکي سړي اودخدای فرمان منونکې ښځې، رښتیا ویونکي سړي اورښتیاویونکې ښځې، صبرکوونکي سړي اوصبرکوونکي ښځې، متوضع سړي اومتوضع ښځې، سخي سړي اوسخي ښځې، روژه نیوونکي سړي اوروژه نیوونکې ښځې، پاک لمنه سړي او پاک لمنې ښځې او هغه سړي اوښځې چې خدای یې په یادوي، بخښې او ورته لوی اجر ورکوي (.نه پوهیږم دا طالبي شیخان داسلام مبین دین په دې اساسي احکامو له سره نه پوهیږي اوکه په هغوی سترګې پټوي. دا مبارک آیت په وضاحت راښیي چې داسلام مبارک دین دانسانانو ترمنځ جنسي توپیر له سره نه پیژني اوبیله کوم توپیره دهرانسان مقام دهغه په عقیده،عمل اوکړووړوپورې تړي .داچې دندیم په شان شیخان یې منی اوکه نه مني، خوحقیقت دادی چې عادل او مهربان خدای هرانسان ته دهغه دجنس له مخې نه بلکې دهغه دعقیدې اوعمل له مخې، مکافات اومجازات ورکوي. دا عمل دی چې په دنیااواخرت کې دمسلمان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

برخليک ټاکي. که دشيخ نديم په شان شيخان دا مني چې ښځه هم دنارينه په شان انسان دی، نو به دا هم مني چې انسان داسلام په مبارک دين کې تر پريښتولوړمقام لري اودې مقام ته به درناوی کوي. لوی خدای ( ج ) په قرآن کريم کې فرمايي چې »:وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ أَبَى وَاسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِينَ ) «.کله مو چې فرښتو ته وويل چې آدم ته سجده وکړي، ټولو ورته سجده وکړه، يوازې ابليس په تکبر لاس پورې کړاوهغه دکافرانو له ډلې څخه و (.فرښتې چې دخيراوښيګڼوسمبول اوسرچينه ګڼل کيږي، دلوی خدای (ج ) په دربارکې يې دانسان دوچت مقام درناوی وکړاوشيطان چې دشراوبديوسمبول اوسرچينه دی، دانسان کرامت ته سپکاوی وکړاودايمي لعنت يې په برخه شو. شيخ نديم اودهغه فکري انډيوالان چې هرنارينه ترهرې ښځې لوړګڼي په حقيقت کې دښځې انساني کرامت اوانساني حقوقوته سپکاوی کوي او په دې توګه دفرښتولارپريږدي اودشيطان په منډه ځي. يوازې نارينه نه بلکې ښځه هم انسان دی نوځکه ناريته توب نه بلکې انسانيت دانساني کرامت سند دی .داچې يوانسان دنارينه ياښځينه جنس په توګه دنيا ته راځې ددوی په عمل اوارا دې پورې هيڅ اړه نه لري، دادلوی خدای ( ج ) اراده ده اوپروردګاردخپل عظمت اوعدالت له مخې دخپلې ارادې جزا انسان ته نه ورکوې اومکافات اومجازات يوازې اويوازې دهغو په کړو وړوپورې تړي. لوی ذات په قرآن کريم کې فرمايي چې :

» الناس انا خلقناکم من ذکر وانثی وجعلناکم شعوبا وقبائل لتعارفوا ان اکرمکم عند الله اتقاکم ) «.ای خلکو !ماتاسې له يوه سړي او له يوې ښځې پيداکړی اوله تاسې مو قومونه اوقبيلې جوړې کړې ترڅو يوبل وپيژنی .له تاسې څخه په خدای هغه څوک ډير ګران اوورته نژدې دی چې ترټولوزيات پرهيزګاروي (.جنس، نژاد، دپوست رنګ، قوم يا قبيله، شتمني ياغريبي نه، بلکې نيک عمل اوپرهيزګاري دالله تعلی ددوستې اومحبوبيت لارده .داسلام په پاک دين کې دهرانسان - دنارينه اوښځينه، دعرب اوعجم، دغريب اوشتمن - ديني اودنياوي برليک دهغه په عمل پورې تړل شوی دی .داسې ښکارې چې په طالبانوکې دشيخ نديم په شان شيخانوباندې دجنسي غريزې زوردهغوی عقل، فکراووجدان ته زيات زيان رسولی دی، نوځکه نه شي کولی چې دښځينه جنس انساني مقام اوکرامت، په ټولنه کې دلور، خور، مانديني اومورپه توګه دهغې رول او ورسره سم دهغې علم اوعمل ته پام وکړي .دا جنسي غريزوليوني کړي شيخان دخپلې دندې په هکله هم نه کومه مسلکي موضوع لري اونه په خبردي، يوازنی سياسي اومسلکي موضوع يې دښځې ښځينه جنسيت دی اولويه قهرماني يې داده چې داجنس بايد دحلال کاراوکسب اوپوهې اومعرفت نه په داسې حال کې لرې وساتي چې پاک خدای ( ج ) حلال کار، کسب اودعلم زده کړه، په هرمسلمان ـــ نارينه اوښځينه ـــ فرض کړي دي .له ورځې تربله ښکاره کيږي چې په طالبانو کې دنديم په شان شيخان دخپل سياست په دې برخه کې دخدای تعلی په لار نه بلکې دشيخ هبت اله په لارروان دي، دخدای ) ج ( اودرسول ) ص ( حکمونه تر پښولاندې کوي اودهبت اله امرونه عملي کوي .که چيرې شيخ صاحبان قرآن عظيم الشان يوځه په غورولولي نوبه پوه شي چې فرعون ـــ يونارينه ـــ دموسی ) ع ( دوژلو په لټه کې واوميرمنې يې چې، آسيه نوميده، ټول خطرونه په ځان ومنل اوموسي ) ک ( يې له مرګه وژغوره .له دې امله په قرآن شريف کې د « آسيه » نوم په نيکۍ اودفرعون نوم په بدۍ ياد شوي دی .په دې توګه فرعون د« آسيه « دپښو خاوروته هم نه شي رسيدلی، ځکه چې په دې مبارک دين کې دانسان مقام، نيکي اوبدي په جنس پورې نه، بلکې په نيت اوعمل پورې اړه لري .داهم بايدهيرنه شي چې بې بې مريم يوه ښځه وه او دا ښځه دقرآن کريم له مخې دلوی خدای په دربارکې هغه لوړمقام لري چې نمرودان اوفرعونيان ورڅخه له سره بې برخې دي .داسلام دتاريخ په لومړي سرکې وينوچې ابوسفيای اويزيد دواړه نارينه و .ابوسفيان په خپل ټول ځواک داسلام اومسلمانانوپه ضد جنګيده اوداسلام پيغمبردشهيدکولو په لټه کې واويزيد دکربلا دتاريخي فاجعې مسؤل دی .له بلې خوابې بې خديخه، بې بې عايشه اوفاطمه درې واړه ښځې وې، درې واړه دتقوااوپرهيزګارۍ، دصداقت اووفادارۍ، دپاکۍ اوايماندارۍ وتلې نمونې وې .اوس دې شيخ صاحبان ووايي چې داسلام په مبين دين کې دا ياد شوي نارينه لوړمقام لري اوکه دايادې شوې ښځينه؟ لوی ذات ته دا ښځينه ورنږدې دي اوکه دا نارينه؟ طالباني شيخان دې په خپل نارينه توب باندې غروردجنون حد ته نه رسوې اوبايد هيرنه کړي چې په اسلام کې دحق ټکی تربل هرڅه وچت مقام لري. هغه ښځينه چې ټول عمرېې دحق پيروي کړې وي اوکوې يې ترهغو نارنه وو ډيرفضيلت لرې چې ديزيد په شان دحق په ضد جنګيدلي وي اوجنګيږي اودشراواستبداد څلي يې جوړ کړي وي اوجوړوي يې .ښايي چې دنارينه توب په نيشه کې ډوب طالبي شيخانو دې ته هم پام نه دي چې ښځه موراوښځې ميندې دي. په اسلام کې دميندودمقام اوفضيلت په هکله داسلام پيغمبر( ص ) فرمايلي دي چې »: الجنّةُ تحتَ اقدامِ الامّهات )«.جنت دميندو تر پښولاندې دی ) اوس نو که څوک دحضرت محمد مصطفی ( ص ) په قول عقيده لرې، دا به مني چې جنت د « نارينه وو «ترمبارکو ږيرولاندې نه بلکه دميندو ترپښولاندې دي .هو ! اجراوفضيلت، جزا اوذلت په جنس پورې اړه نه لري، بلکې خپل عمل دلارې منل دی اوشيخ صاحب، څّه چې کرې هغه به ريبې .داښځې دي چې دمور په توګه يې دپيغمبرانو په شمول ټول نارينه په نس کې ګرځولي دي اوترزيږيدو وروسته يې دهغوی په جسمي اومعنوي روزنه اوپالنه کې هرډول زيارونه اوزحمتونه په ځان منلی دي .دخپل اولاد په مينه کې يې بېخوبې، ستړيا اوستوماني له سره هيرکړي دي او هرڅه چې يې تر لاسه کيدل دخپل ماشوم د نيکمرغۍ له پاره يې ترسره کړي دي .لوی خدای ( ج ) په خپل رحم اوعدالت دموردې، له مينې اواخلاص نه ډکوقربانيوپه بدل کې، مورته دامقام اوفضيلت ور بخښلی دی چې جنت يې دهغې تر پښو لاندې کړی دی .ټولې ښځې



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

میندې وې، میندې دي اویا به میندې کیږي، نوځکه ښځینه جنس ته ترنارینه په ټیټه سترګه کتل او دهغوی په انساني حق تیری کول دمورمقام ته سپکاوی دی چې داسلامي لارښووونوسره په هیڅ ډول نه جوړیږي .دښاغلي شیخ ندیم په شان طالبي شیخان نن سبا افغاني میرمنوته نه یوازې دخپلووینځوپه سترګه کوري، بلکې په عمل کې هم ورسره دهغوی دبادارپه توګه چلند کوي .دبیلګې په ډول حلال کاراوکسب اودعلم زده کړه دنارینه په شان دښځې حق هم دی او په اسلام کې دنارینه په شان په ښځې هم فرض دي، خودوی دا حق اوفرض لغوکوي او په ځای یې په افغاني جونو او میرمنو خپله اراده تحمیلوي، دحلال کار، کسب اوزده کړویې بې برخې کوي .شیخانو دې ته پام نه دی چې په خپل کمزورې اوجامدفکرکې ښځینه جنس ته په ټیټه اوسپکه سترګه کتل په حقیقت کې دخپلې اوبلې موردمورولۍ پاک مقام اوفضیلت ته په ټیټه اوسپکه سترګه کتل دي .په دې صورت کې مې دې شیخانو ته مشوره داده چې که درنې اوپاکلمنې میندې یې ژوندۍ وي، نو وردي شي، دهغوی دپښوخاورې دي ښکل کړي، دټولومیندوپه نماینده ګۍ دخپلومیندونه دښځینه جنس په وړاندې دخپل فکراوعملي سیاست بخښنه وغواړي اوژمنه دې وکړی چې په راتلونکې کې به یې نه تکراروي اوکه له فاني دنیا تللې او په حق رسیدلې وي، نوزیارت ته دې ورشي، دهغوی دقبرخاورې دي ښکل کړي اوهلته دې هم همدا مراسم ترسره کړي او په پای کې دې دخوشال خټک دیوه شعردا لاندې پیروک واوروي :

چې زما د مور قدم دی　　هغه ملک په ما ارم دی
که د پښو تلې یې ښکل کړم　　درګوهرپرې باندې تل کړم
تن مې خاورې په دې لارشوای　　چې ددې باندې رفتارشوای
د ریغه د ریغ زما مورې　　آواره خبرې نورې

پای

وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِکَهِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِیسَ أَبَى وَاسْتَکْبَرَ وَکَانَ مِنَ الْکَافِرِینَ؛ کله مو چې پرېښتو ته وویل چې آدم ته سجده وکړي،ټولو ورته سجده وکړه، یوازې ابلیس په تکبر لاس پورې کړاوهغه دکافران له ډلې څخه و .

» الناس انا خلقناکم من ذکر وانثی وجعلناکم شعوبا وقبائل لتعارفوا ان اکرمکم عند الله اتقاکم « ای خلکو !ماتاسې له یوه سړي او له یوې ښځې پیداکړی اوله تاسې مو قومونه اوقبیلې جوړې کړې ترڅو یوبل وپیژنی .له تاسې حخه په خدای هغه څوک ډیر ګران اوورته نژدې دی چې ترټولوزیات پرهیزګاروي .

»إِنَّ الْمُسْلِمِینَ وَ الْمُسْلِماتِ وَ الْمُوءْمِنِینَ وَ الْمُوءْمِناتِ وَ الْقانِتِینَ وَ الْقانِتاتِ وَ الصّادِقِینَ وَ الصّادِقاتِ وَ الصّابِرِینَ وَ الصّابِراتِ وَ الْخاشِعِینَ وَ الْخاشِعاتِ وَ الْمُتَصَدِّقِینَ وَ الْمُتَصَدِّقاتِ وَ الصّائِمِینَ وَ الصّائِماتِ وَ الْحافِظِینَ فُرُوجَهُمْ وَ الْحافِظاتِ وَ الذّاکِرِینَ اللهَ کَثِیراً وَ الذّاکِراتِ أَعَدَّ اللهُ لَهُمْ مَغْفِرَةً وَ أَجْراً عَظِیماً «په رښتیا چې لوی پروردګارمسلمان سړي اومسلمانې ښځې، ایمان لرونکې سړي اوښځې، دخدای فرمان منونکې سړي اوښځې، رښتیا ویونکې سړي اوښځې، صبرکوونکې سړي اوښځې، متوضع سړي اوښځې، سخي سړي اوښځې،روژه نیوونکې سړي اوښځې، پاک لمنې سړي او پاک لمنې ښځې او هغه سړي اوښځې چې خدای یې په یادوي، بخښې او ورته لوی اجر ورکوي «.

داسلام پیغامبرحضرت محمد مصطفی ( ص ) فرمیلي دي چې »:الجنّةُ تحتَ اقدامِ الامّهات.«

پیامبر اکرم) صلی الله علیه و آله (در تبیین مقام مادر می فرماید :الجنّةُ تحتَ اقدامِ الامّهات؛ بهشت زیر پاهای مادران است «.این حدیث حاکی از این است که بدون رضایت مادر نمی توان به بهشت و نعمت های بهشتی دست یافت . اگر کسی بخواهد به درجات عالیه جنّت و رضوان نایل گردد، باید به مادر احترام بگذارد و به او خدمت کند .این همه ارج نهادن به مقام مادر شاید به خاطر زحماتی است که مادر متحمل می شود. تحمل رنج و زحمت دوره بارداری و کودکی و تأمین نیازهای جسمی و روحی فرزند از مشکلات طاقت فرسایی است که مادر می تواند بپذیرد .طبیعی است که خداوند در قبال صبر و بردباری مادر، اجر و مزد بی پایان به او عنایت می کند .قرآن کریم به رنج و زحمت مادر اشاره کرده می فرماید» :حملته امّه کرها و وضعته کرها و حمله و فصاله ثلایون شهرا»؛ »مادرش او را با ناراحتی حمل می کند و با ناراحتی بر زمین می گذارد و مدت حمل و از شیر باز گرفتنش سی روز است.» به قول معروف هر که بامش بیش، برفش بیش تر. مادر نسبت به تربیت فرزند مشکلات زیادی را متحمل می شود و طبعا پاداش زیادتری را نیز مستحق می گردد .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

.1زن در اسلام به عنوان شریک مساوی و کامل مرد در تولید نسل بشر به رسمیت شناخته می‌شود .مرد، پدر و زن، مادر است و هر دو برای زندگی ضروری و لازم هستند .نقش زن کمتر از مرد حیاتی نیست .با این شراکت او در هر جنبه‌ای دارای سهم مساوی است. او دارای حقوق مساوی است، مسؤلیتهای برابری را بر عهده می‌گیرد و در درون او همانقدر توانایی و انسانیت است که در شریک او. در رابطه با این اشتراک برابر در تولید نسل انسان خداوند می‌فرماید :

»ای مردم، ما همه شما را نخست از مرد و زنی آفریدیم و آنگاه شعبه‌های بسیار و قبایل مختلف گردانیدیم تا یکدیگر را بشناسید 49:13)«...و 4 (1:




صویری خیالی از خدیجه همسر محمد، که به سال ۱۵۵۳ رسم شده‌است.

HYPERLINK "https://fa.wikipedia.org/wiki/%D9%BE%D8%B1%D9%88%D9%86%D8%AF%D9%87:Khadija_al-Kubra.jpg?uselang=fa"ت

در روایاتی از محمد، زنانی به عنوان الگو و شخصیت‌های برتر نام برده شده‌اند .این زنان تاریخ‌ساز، عبارند از فاطمه، آسیه، مریم[۶۶].همچنین در روایات دیگری از چهار همسر بهشتی یاد شده‌است که به‌طور برجسته از آنها تمجید شده‌است .این افراد عبارتند از آسیه، مریم، خدیجه و فاطمه .این زنان، از جهت‌های مختلفی چون تعهد و وفاداری‌شان نسبت به خدا و اطاعت از فرمان‌های او، نماد فضیلت در میان زنان هستند .در منابع شیعی، فاطمه نسبت به مریم که در آیاتی از قران به برترین زنان عالم توصیف شده‌است، برتری داده شده‌است .بر اساس روایات اسلامی، مریم و فاطمه هر دو در هنگام زایمان مورد عیادت فرشتگان قرار گرفته‌اند .حتی در روایاتی از فاطمه با عنوان» مریم الکبری «یاد شده‌است[۶۷].به‌طور کلی، دو گروه از زنان در تاریخ اسلام مورد توجه منابع قرار گرفته‌اند؛ گروه او زنانی که در صدر اسلام زندگانی می‌کردند عموماً اهل مکه و مدینه بودند .دسته دوم زنانی بودند که در قرون وسطی در مصر، عربستان و شام زندگانی می‌کردند .دسته دوم شامل حاکمان، زنان دارای مناصب و عالمان هستند[۶۸].

**امهات المومنین**

.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ